مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شیرمحمد اميني ستانکزی ۲۰۲۰/۰۲/۲۳

# لرغوني او تاريخي سيمې د هېواد د ملي هويت څرګندويي کوي!

افغانستان دنګ دنګ غرونه، ښيني او زرغوني سيمې، ښکلي منظرې، تاريخي او لرغوني ځايونه لري، دا پيرزوينه د لوی خدای (ج) ده، چې پرافغان ولس يې کړې ده. خو افغانان د پورتنيو نعمتونو څخه په هغه اندازه خوند نشي اخيستی او ولې په دې اړه بې پروايي ښکاره کوي؟ ځکه په هېواد کې د دايمي سولې او امنيت د نشتون له امله په ښه زړه او ذوق سره د يادو سيمو ليدنه نشي ترسره کولی او که چيرته په هېواد کې سرتاسري امنيت او سوله واي، نو افغانان به هم له خپلو شته وو فرهنګي او سيلاني سيمو نه خوند ترلاسه کړی وای او بهرني سيلانيان به هم دې هېواد ته په خورا مينې سره يون (سفر) ترسره کاوه او هېوادوالو ته جوتېدل، چې د بهرنيو هېوادونو وګړي د طبيعي، لرغونو او تاريخي سيمو ځومره زيات مينوال دي .

په دې سربيره دهېواد اکثره خلکو هم د خپل ملي هويت ته پوره درناوی او ملي ګټو ته ژمن اوسيدل او هم به د افغانستان لرغوني او تاريخي سيمو په خونديتوب او ژغورنه کې خلک لاس په کار کيدل .

لرغوني او تاريخي سيمې د فرهنګي ميراثونو څخه شميرل کيږي، چې د معنوي او هنري ارزښتونو څخه برخمنې دي. لرغوني او تاريخي سيمې د يو هېواد د ملي هويت څرګندويي کوي، داچې افغانستان په نړۍ کې بې ساري تاريخي او لرغوني سيمې لري، دا موږ ته جوته وي، چې څنګه زموږ نيکونو د ژوندانه چارې سمبالولې او په کوم ډول فلکلوريک ژوند يې پر مخ بېول.

نو ويلی شو، چې لرغوني ځايونه زموږ د تاريخ پاڼو ته رنګيني او زريني ښکلاوې ورپه برخه کړې دي او راتلونکي نسلونو ته هغه څه ورپه ډاګه کوي، چې دوی خامخا به د پرمختګ په لوري ځانونه باسي .

ځکه پخوانيو خلکو د ژوند تېرولو کړاونه او ستونزې چې ګاللي هغه ور په ياديږي او دامهال د ځوانانو په ذهنونو کې د ننني ټکنالوژۍ آسانتياوې او سهولتونه راګرزي او فکر کوي، چې اوسنی ژوند د پادشاهي ژوند دی .

خو په دې چې ورڅخه ګټه نشو ترلاسه کولای، دا د تنبلی په لومه کې راګير ولسونه يو، ولې بياهم د تيرو ولسونو په ژوند چې فکر وکړو، نو بيا يو څه د ځان د شرم لپاره پرمختللي نړۍ ته سر وهو او د پرمختګ په لوري ګامونه اخلو. تاريخي سيمې د هېواد په ټولو ولايتونو، ولسواليو او کليو کې شته، خو ځينې تاريخي او لرغوني سيمې د تاريخ له کرښو پاتې شوي، خو داچې ځايي ولسونو د هغوی په اړه خبرتيا نه دې کړي او په اړه يې بشپړ مالومات نه دي وړاندې کړي، نو ښکاره خبره ده، چې دهغوسيمو وګړي خپل ملي هويت ته ځانګړې پاملرنه نه ده کړې .

نو راځئ، چې د خپل ملي هويت په ساتنه او خونديتوب کې ټول ځانونه مسؤل وګڼو ترڅو زموږ ملي شتمنې ترډيره بريده پاتې وي او ولس اړ و ګڼو، چې په ځينو سيمو کې لرغوني او تاريخي نښې اونښانې موجودې وي او تردې مهاله په اړه يې خبرتيا نه دې شوې، بايد دغه کار ترسره شي او ملي هويت راتلونکي نوي نسلونو ته ثابت پاتې وي .

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ